**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د چاپېريال ساتنې ملي اداره**

# په اسلامي شريعت کې د چاپېريال ساتنې ارزښت

**تحقيق او څېړنه: ذبيح الله « مصباح »، پکتيا، اړيکې شمېره : ۰۷۷۹۶۹۲۷۳۷ ،**

**ايميل ادرس: Zmuhajjal@gmail.com**

**کال : ..................................................................................۱۳۹۹ هـ. ش.**

# مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى اَشْرَفِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْن وَعَلَى اَلِه وَاَصْحَابِه اَجْمَعِيْن اَمَّا بَعْدُ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى فِيْ مَحْكَمَ كِتَابِهِ وَ هُوَ اَصْدَقُ الْقَائِلِيْن: اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ.

اسلامي شريعت هغه دين ده چې د ژوند ټولو برخو ته د ځانګړو لارښوونو لرونکی ده. همدا دليل ده چې د هرې زمانې سره برابر او تر دې دمه يې دوام موندلی ده او تر قيامته به همداسې دوام لري. نن ورځ د چاپېريال ساتنې موضوع د نړۍ د هيوادونو له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کيږي. چې د نړيوالو ځانګړی پام يې ځانته ورګرځېدلی ده. مګر اسلام له نن څخه شاوخوا ۱۴۰۰ کاله وړاندې نوموړې موضوع ته اهميت ورکړی ده او هغه يې د جدي او مهمو موضوعاتو څخه ګڼلې ده. او پدې اړه يې ځانګړې لارښوونې کړې دي. په همدې خاطر لازمه ده چې نوموړې موضوع لومړی په قران کريم او بيا په نبوي احاديثو کې تر څېړنې لاندې ونيسو.

## لومړۍ برخه: ځمکه

دا چې نظافت او پاکي د چاپېريال ساتنې اصلي او مهم اړخ جوړوي. چې د خپل چاپېريال په پاک ساتلو سره کولی شو د خپل چاپېريال ساتنه وکړو. چې پدې اړه الله« جل جلاله » په قران کريم کې فرمايلي دي: (اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ).

ترجمه: الله « جل جلاله » توبه کوونکي خوښوي او پاکي کوونکي خوښوي.

له نوموړي ايت څخه په واضحه توګه ښکاري چې له پاکي اختيارونکو سره الله « جل جلاله » مينه لري. پاکي يوازې دا نه ده چې خپل بدن او کالي پاک وساتو بلکې د خپل چاپېريال ( کور، سړک ، کوڅه ، بازار ، هوا ، ښوونځي او نور عامه او خصوصي ځايونو ) پاکوالي ته هم پاکوالی ويل کيږي. هر ډول پاکي د اسلام غوښتنه ده. لکه څنګه چې په بل ځای کې الله « جل جلاله » د ځمکې د شين والي ( زرغونوالي ) په اړه فرمايلي دي ( وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ).

ژباړه: او الله « جل جلاله » له اسمان څخه اوبه نازلوي او پر هغې باندې ځمکه را زرغونوي.

په دې ايت کې الله « جل جلاله » د ځمکې کښت او زراعت ته اشاره کړې ده. چې د اوبو په واسطه ځمکه را زرغونوي او د ځمکې زرغونتيا د هوا او چاپېريال په پاک ساتلو کې ډېره زياته مرسته کوي. نو لازمه ده چې

انسانان پر ځمکه کښت او ونې وکري تر څو ځمکه او هوا پاکه او د ژوند کولو لپاره مناسب چاپېريال وګرځي، نه داسې چې ځمکه فاسده، ککړه او خرابه کړو يا پر ځمکه کې فساد وکړو چې په دې اړه الله « جل جلاله » فرمايلي دي: (وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِيْ الْاَرْضَ اِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ).

ژباړه: او په ځمکه کې د فساد کولو هڅه مه کوه بېشکه الله « جل جلاله » فساد کوونکي نه خوښوي.

فساد يوازې دا نه ده چې يو څوک د انسانانو تر منځ تفرق او شخړې رامنځ ته کړي. بلکې فساد هر هغه کار ته وايي چې نورو انسانان ترې زيانمن شي. په همدې اساس په ځمکه کې هغه کارونه تر سره کول چې هغه د ځمکې د ککړتيا، د هوا د ککړتيا او د اوبو د ککړتيا لامل ګرځي هم له فساد څخه عبارت ده. ځکه په دې سره د نورو انسانانو ژوند او جسم ته زيان رسيږي.حتی د انسانانو د ناروغتيا او مړينې لامل ګرځي. لکه په بل ايت کې چې الله « جل جلاله » په صراحت سره فرمايلي دي: ( وَ اِذَا تَوَلَّی سَعَی فِيْ الْاَرْضِ لِيُفْسِدُ فِيْهَا وَ يُهْلِکُ الْحَرْثَ وَ النَّسْلَ وَاللهُ لَايُحِبُّ الْفَسَادَ ).

ژباړه: او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورشي ، نو په ځمکه کې د هغه ټولې هلې ځلې ددې لپاره وي چې فساد خپور کړي. کښتونه له منځه يوسي او انساني ځوځات هلاک کړي. په داسې حال کې چې الله « جل جلاله » فساد کوونکي نه خوښوي.

په پورته ايت کې الله « جل جلاله» په واضحه توګه ويلي دي، چې کښتونه ( ونې ، بوټې او نور شنه نباتات ) او انساني نسل له منځ وړل فساد ده. او الله « جل جلاله فساد نه خوښوي. دغه ټول قراني تهديدات ددې لپاره دي چې ځمکه له فساد څخه خوندي وي او انسانان په يو خوندي، پاک او منظف چاپيريال کې ژوند وکړي.

له پورته قراني لارښوونو او تهديداتو علاوه چې د چاپېريال ساتنې په اړه يې کړې دي، په نبوي احاديثو کې هم نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه شوېده. نبي کريم « صلی الله عليه والسلم » د نظافت او پاکي په اړه فرمايلي دي: ( اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ )

ژباړه: پاکي او نظافت د ايمان برخه ده.

په پورته مبارک حديث کې په نظافت او پاکي باندې ټينګار شوی ده. لکه څنګه چې د حديث الفاظ عام راغلي دي او د کومو ځانګړو اشياوو د پاکي يادونه يې نه ده کړې، نو په همدې اساس د خپل چاپېريال ساتنه او د هغې نظافت ته پام کول هم د همدغه حديث مضمون ده. لازمه ده چې هر فرد داسې کړنې تر سره نه کړي چې په اساس

يې چاپېريال ککړ شي. د فابريکو څښتنان ، د خرابو موټرو څښتنان او د کورونو اوسېدونکی مکلف دي چې داسې څه ونه سوځوي چې چاپېريال چټل کړي. او هوا خرابه کړي. او يا کثافات په داسې ځايو کې وغورځوي چې همغه ځای ورته مناسب نه وي. ځکه دغه کار يو خواته ځمکه ککړوي او چټلوي او بلې خواته د ټولنې اوسېدونکو ته ضرر رسوي. چې په اساس يې خلک له ډول، ډول ناروغيو او نورو ستونزو سره مخ کيږي. چې د ضرر د منع والي په اړه نبي کريم « صلی الله عليه والسلم » فرمايلي دي: ( لَا ضَرَرَ وَ لَا ضِرَارَ )

ژباړه: نه به شخص بل چاته ضرر رسوي او نه به بل شخص هغه ته ضرر رسوي. يعنې د ټولنې وګړي به يو بل ته ضرر نه رسوي.

په همدې اساس بايد ووايو هغه افراد چې ځمکه ، هوا او اوبه چټلوي او يا داسې زاړه او له کاره پرېوتي ماشينونه استعمالوي چې لوړ ، لوړ اوازونه لري چې صوتي ککړتيا منځ ته راوړي او په اساس يې د ټولنې خلک متضرره کيږي، هم منع دي. او بايد ورڅخه مخنيوی وشي. ځکه په اسلام کې ضرر رسونه منع ده.

## دوهمه برخه: کښت او زراعت

د پورته احاديثو د لارښوونو څخه علاوه دا هم بايد واضحه کړو چې اسلام هغه دين ده، چې مسلمانان يې زراعت او ونې کرلو ته تشويق او هڅولي دي. چې د ونو په کښېنولو سره د ژوند چاپېريال صفا او له ککړتيا څخه ژغورل کيږي. په دې اړه نبي کريم « صلی الله عليه والسلم » فرمايلي دي:(عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ رَسُوْلُ الله « صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَالسَّلَّمْ » مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُغْرِسُ غَرْسًا ، اَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَاْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ اَوْ اِنْسَانٌ اَوْ بَهِيْمَةٌ اِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةً)

ژباړه: له انس ابن مالک ( رضی الله عنه) څخه روايت ده چې رسول الله « صلی الله عليه والسلم » فرمايلي دي: هر انسان چې ونې وکري او يا کښت وکري او له هغه څخه کوم الوتونکی ، يا انسان او يا کوم حيوان ترې خوراک وکړي دا د نوموړي لپاره په صدقه کې حسابيږي.

له ذکر شوي حديث څخه څرګنده شوه چې اسلام ټول مسلمانان ونو کښېنولو او په مجموع کې کرکيلې ته هڅولي دي. چې د ونو کښېنول او د ځمکې زرغونول د چاپېريال ساتنې لپاره له مهمو منابعو څخه ګڼل کيږي. او چاپېريال په خوندي ساتلو کې مهم رول لري. نه يواځې داچې اسلام د ونو کښېنولو او زراعت کرلو ته مسلمانان هڅولي دي بلکې له هغوی څخه يې دا هم غوښتي دي چې د خپلو کښتونو او ونو ساتنه وکړي. حتی د هغو د ساتنې په خاطر يې د سپي ساتلو ته هم اجازه ورکړې ده. په داسې حال کې چې اسلام د سپي ساتنه نه خوښوي.

په همدې ډول نبي کريم « صلى الله عليه والسلم » په يو بل مبارک حديث کې فرمايلي دي چې : چې که قيامت قائميږي او د يو چا په لاس کې د خرما ونه وي، نو هغه د وکري. نو که مونږ دغو ټولو اسلامي لارښوونو ته وګورو دا ددې ښکارندويي کوي چې اسلام چاپېريال ساتنې ته ژمن ده او په دې اړه ځانګړې لارښوونې يې کړې دي. چې په تطبيق سره يې په واقعي توګه چاپېريال خوندي پاتې کېدای شي.

همدارنګه که مونږ د سيرت کتابونو ته مراجعه وکړو، نو په ډېر واضح ډول ترې جوتيږي چې نبي کريم « صلى الله عليه والسلم » به کله کومې غزا ته تللو، نو ټولو صحابه کرامو ته به يې جنګي لارښوونې کولې. چې يو له همدغو لارښوونو څخه دا هم وه چې نبي کريم « صلى الله عليه والسلم» به صحابوو ته ويل چې د جنګ په جريان کې ونو، باغونو او په مجموع کې هر ډول کرکيلې ته زيان مه اړوئ. او د هغوی څخه ساتنه وکړئ. نو کله چې اسلام د جنګ په حالاتو کې د ونو، باغونو او نورو کښتونو ساتنه کوي او په دې اړه نبي کريم « صلى الله عليه والسلم » صحابوو ته ځانګړې لارښوونې کوي، نو په عادي حالاتو کې به اسلام د ونو پرېکولو او د کښتونو له منځه وړلو ته څنګه جواز ورکړي؟ نو ښکاره ده چې جواب « نه » ده. يعنې جواز نشته، مګر بغير د اضطراري حالاتو څخه .

همدارنګه اسلام د هغو شنډو ځمکو ـ چې د چا ملکيت نه وي ـ د هغو د ابادولو لپاره مسلمانان هڅولي دي. چې که چا شنډه ځمکه اباده کړه ، نو همغه ځمکه د ابادونکي ملکيت ګرځي. او دا څرګنده ده چې د ځمکې په ابادي سره چاپيرپال تغير کوي. هغه ځمکې چې شنډې دي له هغو ځمکو سره ډېر تفاوت لري چې ابادې دي. په ابادو ځمکو کې کرکيله کيږي مګر په غير ابادو ځمکو کې هېڅ نه کرل کيږي. په همدې اساس د ابادو ځمکو چاپېريال ښکلی او له مرضونو څخه خوندي وي او د غير ابادو ځمکو چاپېريال د ژوند لپاره مناسب نه وي. په دې اړه نبي کريم « صلى الله عليه والسلم » ( عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ « صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَالسَّلَّمْ » قَالَ : مَنْ اِعْمَرَ اَرْضًا لَيْسَتْ لِاَحَدٍ ، فَهُوَ اَحَقٌّ»

ژباړه : له عائشې « رضی الله عنها » څخه روايت ده چې نبي کريم « صلى الله عليه والسلم » فرمايلي دي: چا چې داسې ځمکه اباده کړه چې د چا ملکيت نه وي، هغه د هغې ځمکې حقدار ( مالک ) ده.

دا ددې لپاره چې ځمکې ابادې شي او د ځمکې په ابادي ( زرغونول، ونې او بوټي په کې کښېنول ) سره د چاپېريال ساتنه کيږي. او چاپيريال له ککړتيا څخه ژغورل کيږي.

## دریمه برخه: اوبه

د چاپېریال ساتنې بله مهمه موضوع د اوبو ساتنه ده چې د اسلام د اوبو ساتلو ته خاصه پاملرنه کړې ده. او په دې اړه نبي کریم « صلی الله علیه والسلم » ځانګړې لارښوونې کړې دي. نبي کریم « صلی الله علیه والسلم » د اوبو د حفاظت په اړه فرمایلي دي: ( لَا یَبُولَنَّ اَحَدُکُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمْ وَلَایَغْتَسِلَنَّ فِیْهِ مِنَ الْجَنَابَةِ )

ژباړه : هیڅکله د یو کس په ولاړو اوبو کې بولې ( متیازې ) او له جنابت څخه د پاکي غسل نه کوي.

له ذکر شوي حدیث څخه په څرګنده توګه ښکاري چې باید د اوبو ساتنه وشي او هغه د هر ډول چټلي څخه وژغورل شي. ځکه اوبه هغه څه دي چې د چاپېریال په ساتنه کې بنسټيز او اغېزناک رول لري. که چېرې اوبه نه وي یا اوبه چټلې وي نو په همغه چاپېریال کې ژوند امکان نه لري او نه هغه سیمې اباديږي چې اوبه په کې شتون ونه لري. کله چې پر ځمکو کې کښت، ونې او ځنګلونه نه وي ، نو هغه چاپېریال په اساني سره ککړیږي او د هر ډول ساه لرونکو لپاره مرګونی وي.

همدارنګه په بل حدیث کې نبي کریم « صلی الله علیه والسلم » فرمایلي دي: ( اِذَا اِسْتَیْقَظَ اَحَدُکُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلَا یَغْمِسَنَّ یَدَهُ فِي الْاِنَاءِ حَتَّی یَغْسِلُهَا ثَلَاثًا فَاِنَّهُ لَایَدْرِيْ اَیْنَ بَاتَتْ یَدَهُ)

ژباړه: که چېري له تاسو څخه کوم کس له خوبه پاڅیږي، نو هغه د تر هغه وخته پورې د اوبو په لوښي کې لاس نه ډوبوي تر څو چې یې درې ځلې مینځلی نه وي.

له پورته حدیث څخه دا څرګندیږي چې د اسلام مبارک دین د اوبو په ساتنه کې له څومره احتیاط څخه کار اخیستی ده او څومره زیات اهمیت یې ورکړی ده. چې که یو کس له خوبه پاڅیږي، نو لاس د په اوبو کې نه ډوبوي ځکه کېدای شي لاس یې د شپې له خوا په ناپاکو ځایو لګېدلی وي. او د هغې له امله اوبه مردارې نه شي. په همدې اساس په کار ده چې د اوبو په ساتنه کې ډېر دقت وکړو او هغه مردارې نه کړو. ځکه چې اوبه د ژوند کولو اساس ده. او د اوبو په مصرفولو کې له پوره احتیاط څخه کار واخلو تر څو اوبه بې ځای مصرف نه کړو، بلکې د ضرورت په اندازه یې وکاروه. ځکه اسراف الله « جل جلا له » منع کړی ده. په دې اړه الله « جل جلاله » په قران کریم کې فرمایلي دي: ( اِنَّ اللهَ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِیْنَ )

ژباړه : الله « جل جلاله » اسراف کوونکي نه خوښوي.

په همدې اساس اسراف هغو ټولو مواردو ته شاملیږي چې یو شخص یې د خپل ضرورت څخه په زیاته اندازه کاروي او دا کار په اسلام کې منع شوی ده. نو که اوبه هم له ضرورت څخه زیاتې وکارول شي په اسراف کې راځي. اګر که د اوبو پرېماني هم وي. حتی په اودس کې هم د اوبو د زیات استعمال څخه منع شوې ده او علماوو له اسراف څخه ګڼلې ده.

په پایله کې دې نتیجې ته رسیږو چې اسلام مبارک دین په کلکه د چاپېریال ساتنې لارښوونې کړې دي. او د چاپېریال پاک ساتلو ته یې ځانګړې توجو کړې ده. هغه ټولې منابع ( ځمکه ، هوا او اوبه ) چې د چاپېریال ساتنې پورې اړه لري ، د هغې په اړه اسلام ښکاره لارښوونې کړې دي چې دغه ټولې لارښوونې د چاپېریال په ساتنې راڅرخي. چې دغه ټول دلایل ددې ښکارندویې کوي چې اسلام د چاپېریال ساتلو ته ژمن ده.

پای

# منابع او مأخذ

1. قران کریم
2. البخاري، جعفي، ابوعبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة ۱۴۰۷هـ . ق. الجامع المسند الصحیح المختصر من امور رسول الله « صلی الله علیه والسلم» وسننه وایامه (صحیح البخاري)، دریم چاپ ، تحقیق : دیب البغا ، مصطفی ، بیروت ، دارابن کثیر.
3. الترمذي ، السلمي ، ابو عیسی محمد بن عیسی ، ۱۴۱۱هـ ق. ، الجامع الصحیح سنن الترمذي ، دوهم چاپ ، تحقیق : احمد محمد شاکر، بیروت ، دارالاحیا التراث العربي.
4. سادات ، سید مالیار، ۱۳۹۱ هـ ش. ، زمونږ چاپیریال، لومړی چاپ، کابل افغانستان ، وحید وهاج ساختماني شرکت.